پوهندوی دوکتور سید حسام (مل)

# هنر یعنی څه ؟
# او هنر مند یعنی څوک ؟

هنر هغسی چی مخکی فکر کیدل دتل په شان هغسی نه دی لکه چی مونږ نن فکر کوو .یعنی نن ورځ هنر (Art) او هنرمند( یا Artist) لکه چی مخکی تعریف او توصیف کیدل ، هغسی نه تعریف کیږی ، پس ویلی شو چی د هنر او د هنرمند اصطلاح او یا کلیمه په ننی نړی کی دتکنالوژی دپرمختګ په نظر کی نیولو سره نسبتاً نوی او مدرن اصطلاحات یا نومونه دی چی په کار وړل کیږی .
ډیر هغه شیان او هغه کسب او کار یا مهارتونه چی نن ورځ مونږ هغه ته هنر وایو په مخکینی زمانو کی خلک په هغه د پوره پوهاوی ښبنتن نه وه ، هغوی په دی پوهیدل چی یونانیان شعروای ځنی یونانیان مجسمی جوړوی او یا ځنی د هغو نقاشی کوی او هم داسی نور . له دی څرګندونی څخه داسی را ښکاری چی په هغه زمانو کی شعر ویل ، نقاشی کول له مختلفو جهاتو څخه شاید چی دټولنی له خوا د منلو وړ اویا دا چی ټولنه د هغه ضرورت احساسول . مګر نن دافکارو د زیات ودی او دعصری تکنالوژی د پرمختګ پر بنیاد هنر او هنر مند په بل بڼه پیژندل کیږی او یا تعریف او توصیف کیږی .

په ډاګه باید وویل شی چی د هنر او د هنر مند صریح او قناعت ښښونکی تعریف تر اوسه په لاس کی نشته او یا تر اوسه په مقنع ډول سره تعریف شوی نه دی . په هر صورت دا به ډیر اسان او ساده وی چی وویل شی ، هنر یعنی دیو شخص پواسطه سره د یو مهارت تر سره کول یا د هغو

کړنو او فعالیتونو د پکار وړلو خاص اجرآ ت او ډیر په زړه پوری اسلوب او روشونه چی د عادی خلکو په واسطه سره نه تر سره کیږی .
او یا داچی د یو ښکلی ( aesthetic) شی د ایجاد په هکله د مهارتونو پکار وړل او تفکر کول ، مخکی له دی چی د هنر د تعریف په هکله څه ووایو لازم ګڼل کیږی چی د هنر او د هنر مند د تاریخچی په اړین یو څه ځان تم کړو .
د تاریخی له پلوه د هنری کار نوښت یا مفکوره د هنر مند د اصطلاح سره یو ځای په پنځلسم او شپاړلسم پیړی کی د ایتالیا په هیواد کی مینځ ته راغی .
د رنسانس په راتګ سره د هنر کلیمه (word) دیو کلی اصطلاح په توګه ومنل شو او د همدی نومولی کلی اصطلاح تر سر خط ، نقاشی ، مجسمه سازی ، او معماری د ګورجیوواساری(Gurgio vasari) ایتالیوی هنرمند او بیو ګرافر له خوا په شپاړلسم پیړی کی پکار ویوړل شو ،وروسته له هغه دغه نومولی هنری ګروپ (نقاشی ، مجسمه سازی ،معماری ) ته د نورو نوی حرفواو د پیشه ورانو په شا میلیدو سره پراحتیا ورکړل شو،چی دغه نوی هنری حرفی له موسیقی او شعر څخه عبارت وه ، کوم چی د نفیسه هنرونو (fine arts) په نوم یادیدله ، دغه پنځه هنری حرفی ( نقاشی ، مجسمه سازی ، معماری ، موسیقی ،شعر) دهنری هستی په نوم ونومول شو . وروسته له هغه د هنری هستی په شاوخوا کی ځنی نور پیشه وری حرفی هم مینځ ته راغی ، لکه دیکور ( ښکلا ګری) ، پیشه وری (crafts) ، اوبد ل ، فلز کاری ، بوټ دوزی او فرنیچر جوړونه .
وروسته له هغه څرنګه دیکور او پیشه وری له هنر ( Arts) بیل او ولی هنرمند له پیشه ور څخه جدا کړل شو .
په مخکینی زمانو یعنی د باستان د مینځنی لسیزی په وخت کی کوم چی د هنر اصطلاح په کار وړل کیدل یا د هنر په نوم ژباړه شوی وه د همغه لسیزی دکار پوهانو اتفاق نظر وه ، مګر نن هر هغه انسانی کړنی او فعالیتونه کوم چی دیو خاص نظم او قاعدی پر بنیاد تر سره کیږی ، د هنر په نوم یادیږی ، نقاشی او مجسمه سازی د نورو یو شمیر حرفو او انسانی فعالیتونو سره لکه بوټ دوزی او ګنډل شامل وه چی نن مونږ هغه د پیشه وری په نوم یادوو .

د رنسانس په وخت کی د هنر په اړین د ټولنی د وضع او حالت په نظر کی نیولو سره ځنی الهام ببنونکی حالات مینځ ته راغی په دی معنی چی هیکل تراشی او نقاشی لکه د موسیقی او شاعری په څیر مساوی او برابر پانګه تر لاسه کړل .دشپاړلسم پیړی په نیمایی کی د لمړی ځل دپاره لمړی په ایتا لیا او بیا په فرانسه او وروسته د نړی په نورو برخو کی دهنر اکادمی تا سیس شو چی په هغه کی زده کونکی حرفی ، کسب او مهارتونه سره د موسیقی ، جیومتری او اناتومی زده کول او دهنر او د حرفی ماهران زده کونکو ته درسونه ورکول .
داکاد می ځخه د باندی د نفیسه هنرونو ( fine Arts) اصطلاح کوم چی د ډیر محدود تعریف او پیژندنی سره مل وه مینځ ته راغی .
په اکادمی کی د هنر په رسمی کیدو سره د هنر د جوړښت او دهغه د تعریف په اړین یو لړ تحریکات اوا عتصابات د نولسم پیړی په لمړیو لسیزو کی مینځ ته راغی چی د نقاشی او هیکل تراشی په مورد ځنی نوی وړاندیزونه د هنر د خاوندانو له خواپیشکش شو ، د نوموړی پیړی په نیمای کی نوی غوښتونکی ( Modernist) دنقاشی د لا پیاوړتیا د پاره نوی پیشنهادونه وړاندی کړل ،او نوموړو پخپل وړاندیز کی د اکادمی د ستاندارد او د نقاشی او هیکل تراشی په کوریکولم باندی نوکه اوخپل ضدیت او مخالفت څرګند کړل ، د نولسم پیړی په اخر او د شلم پیړی په درشل کی هنرمندان او د هنر ماهران ځنی نوی اساسات فورمولبندی کړل چی دهغی له مخی ټول په دی نظر سره اتفاق و کړل چی د نقاشی د پاره باید یو واحد ماده یا (Material) پکار ویوړل شی او داسی انګیرنه وکړل چی paint یو صباغ یا یورنګ ( pigment)دی او د نقاشی مخصوص پرده لرونکی ددوه بعدی مسطح مخونه وی . نو په همدی بنیاد وه چی د شلم پیړی په درشل کی دهنر او دهنر مند د مقام د ټاکنی دپاره او د را پیدا شوی تحریکاتو د مینځه وړلو د پاره په تیر او مخکینی نظریاتو باندی له یو خوا او د نوی نظریاتو په نظر کی نیولو سره کار پوه Marcel Duchmp او DADA په مینځګړیتوب مصالحه او روغه جوړه مینځ ته راغی . او په ډیر تمسخر او استهزا سره د وخت هغه تعریفات چی د هنر او د هنر مند د مقام په هکله شوی وه وځیړل او د مصالحی تیره کیښودل . هغه وویل چی یو هنر مند هر هغه شی چی د خپل هنری فعالیت په اثر تولیدوی یا ټولنی ته وړاندی کوی هغه دهغه هنر یا Art دی . ددی اظهار نظر سره سره

بیا هم د هنر او دهنر مند تعریف یو څه مغلق او نا څرګند پاتی شو ، مګر په عین وخت کی دهنر او دهنر مند دکامل تعریف او شناخت په برخه کی لا تر اوسه نه ستړی کیدونکی هلی ځلی روان دی او هیله کیږی چی پایلی ښه وی .

په هر صورت نن دا سوال مینځ ته راځی چی هنر څه ؟ او هنر مند څوک دی ؟ چی ددی سوالونو ځواب تر اوسه په آسانی سره نه ورکول کیږی .

William Rubin د نیویارک دمدرن موزیم دایرکتر په قول سره چی وایی ( دهنر د پاره تر اوسه کوم مشخص او واحد تعریف په لاس کی نشته ). نو په دی بنیاد په لاندی ډول سره د ځنو کار پوهانو کوم چی هنر یی تعریف کړی دی یادونه کوو :

* دساینس او هنر د بریالیتوب تر مینځ دخیال (autism ) فاصله اسا س وی ( ایتا لیوی هنرمند )

* هنر د خوب ارواح دی (stephan)

*هنر د خپل کلتور بیا نول دی تر هغه وخته چی مونږ ژوندی یوو ا او ستر هنر هغه هنر دی چی حد او مرز ونه پیژنی (Bronwyn)

* هنر هغه څه دی چی د کار په ذریعه د ضرورت وړ یو شی مینځ ته راوړل کیږی ځکه چی هغه ضروری شی خود په خود نه جوړیږی داد کار پوه Aristotle تعریف دی .

* هنر د یو ماشوم تخیل دی چی هغه ته ژوند ښئی . ( Mirkmora)

* هنر شاید چی نقاشی ، هیکل تراشی ، فوتوګرافی ، سمپونی ، نڅا ، یا هر ابتکاری لاس ته راوړنه وی چی دپوره ذکاوت په کمک سره تر لاسه کیږی چی مینځ ته راغلی شی د جوړښت له پلوه ممتاز او په هغه کی قیمتی تزینی عناصرموجود وی او د ارزش او ښکلا له پلوه هسی عالی او بر جسته وی چی د لیدونکو توجه ځانته جلب کړی (

*مارکسیزم دهنر په ارتباط محدود او کوم خاص لار ښونه هم نه دی کړی ، مګر د هنر د ارزښت په اړه ډیر مهم او ګټور څرګندونه کړی چی پر هغه باندی یو څه تم کیږو . دهنر په اړین د مارکسیزم محدودیت په دی معنی چی مارکسیزم کوم ټاکلی او مشخص لارښونه هنرمند ته نه دی کړی چی یو انسان څرنګه باید هنر مند شی

یا داچی یو هنر مند په څه ډول هنر نمایي وکړی .او هم د مارکسیزم له خوا په دی هکله کوم منل شوی معین رهنمود او ټاکلی اسلوب په لاس کی نشته .اونه دی په ډاګه شوی چی یو شاعر څرنګه یو شعر ولیکی ،یا یو نقاش څه ډول یو تابلووباسی اویا څرنګه تابلو رنګ امیزی کړی ،یا داچی یو موسیقی دان څرنګه د موسیقی الاتوځنی ګټه پورته کړی یا څرنګه ترومپټ وغږوی اویا کوم سمپونی کمپوز کړی ، همدارنګه مارکسیزم دمیکانیکل انجینری میتودونو په اړین یا د شطرنج دلوبی په برخه یا دمنډی وهلو او ټوپ وهلود میتودونواو یا د شعر ویلو (ګرچه خپله مارکس د ځوانی په وخت کی شعر ویلی اما کله چه شعرونه یی د خپله خوښه نشو د شعر ویلو څخه ډه ډه وکړ ) په اړه هم کوم ټاکلی رهنمود نه دی وړاندی کړی ، او هم د مارکسیزم په نظر ضرور نه ګڼل کیږی چی یو هنرمند مختلف هنری موضوعاتو باندی لاس بری ولری ، دبلی خوا څخه مارکسیزم د هنر د ارزیابی دپاره کوم مخکینی اماده کړل شوی سیاسی او یا ایدیولوژیکی معیار یا ضابطه نه دی وړاندی کړی .
هغه څه چی مارکسیزم د هنر په اړین مهم یادونه کړی دادی :
* د انسانانو دجمعی او فردی مهمو مهارتونو او هنری کارونو ته پوره درناوی او د هغه د ماهیت په اړین کامل پوهاوی تر لاسه کول کوم چی د ټولنی د ودی او انکشاف سبب ګرځی .
* د هنر او د تاریخی کلتورپوره میتودیکی تحلیل او ارزیابی او د هغه پایلی .
*په وسیع ډول سره د فردی هنری کار تحلیل او ارزیابی او دهغه هدف او مقصد .
دمارکسیزم نظریی د هنر د اهمیت په هکله چی د مارکس په اثارو کی تری نه یادونه شوی ډیر زیات دی چی په دی لیکنه کی د هغو یادونه غیر ممکن بریښی مګر بیاهم د الن وډ( Alan Wood) هغه تقریظ چی د تروتسکی د هنری مجموعی دپاره لیکلی دی دلته په لنډیز سره یادونه کوو تر څو وشو کولای چی دهنر په برخه کی مارکسیستی نظریاتو باندی هم یو څه معلومات تر لاسه کړو :
الن وډ پخپل لیکنه کی داسی وایی : په بایبل کی لیکل شوی چی انسان یواځی دډوډی په لرلو سره نشی ژوند کولای . نو په دی ډول ویلای شو چی نړی بی له موزیک ، بی له انځور ، بی له خیالات او بی له هنر او

هنرمند بی رنګ اوغیر قابل تحمل وی .موجوده نړی چی مونږ اوس پکښی ژوند کوو هنر دی چی ځمونږ نړی ته رنګ ورکړی لکه موسیقی نڅا ، سینما ، درامه ، تیاتر ، تلویزیون او ځنی نور هنری شتمنی . پس ویلی شو چی هنر د انسان دخوبونو اوهیلو مجموعه دی چی انسان خپل ژور هیلی او احساس پکښی را څرګندوی . او په ډاګه سره باید وویل شی چی هنر فردی نه بلکه پوره جمعی اړخ اویا کریکتر لری ،نو په دی بنیاد باید چی هنر او هنر مند د ټولنی په خدمت کی وی .

لکه چی د تاریخی متریالیسم له لوستلو څخه مو زده کړی ، دکار د ویش نه وروسته د ټولنی تولیدوده و کړل مګر په عین وخت کی انسانیت او humanity دتولیدی وسایلو دانحصار له کبله چی د ټولنی د اقلیت په لاس کی وغورځیدل له مینځه لاړ .د تولیدی برخوبیلوالی فزیکی او دماغی کارونه سره هم بیل کړل چی دا پخپله د انسانی ټولنی د طبقاتی کیدو مقدم شاخص او نه انکار کوونکی عامل ګڼل کیږی . انګلس داسی توضیح کوی : چی په هر ټولنه کی هنر ، ساینس او حکومت دڅو تنو یا د ټولنی د اقلیت په لاس کی انحصاریږی یا په monopoly یی اوړی چی دهغو د نا سم چلند له کبله د انسان دمقام درناوی له مینځه ځی او دا پخپله د یو طبقاتی ټولنی کرکتر او اساس ګڼل کیږی ، د انسان د مقام درناوی له دی کبله دمینځه ځی چی مزدور انسان د خپل بخور ونمیر ژوند د بقا دپاره هره ورځ طاقت فرسا اوپه ساعتونو کار کوی او خپل انرژی د لاسه ورکوی او دخپل د ژوند توقع را لنډوی یا په بل عبارت زر زړیږی .

کار پوه Aristotle ډیر مخکی توضیح کړی وه : چی که انسان دخپل د ژوند احتیاجات تر لاسه کړی نو هغه به فیلسوفانه خبری هم کولای شی حال داچی ځمونږ ننی نړی چی اکثر انسانان یی له انسانی ژوند څخه محروم کړی یو غیر انسانی او پانګوالی نړی دی چی غیر قابل تحمل دی او ضرور بریښی جی باید را نسکور شی .

په هر صورت دطبقاتو په مینځ راتګ سره ، هنر ، ساینس او تکنالوژی هم مینځ ته راغی چی د هغه عامل په واقیعت کی د کار ویش او ددماغی او فزیکی کارونو بیلوالی او د ټولنی طبقاتی کیدل وه . ګرچه ،د هنر ، ساینس او تکنالوژی په وده او پرمختګ سره د انسان د ژوند تریږمی اړخ روښانه شو چی نن په میلونونو انسانان د نړی په ګوټ ګوټ کی له هنراو هنری وسایلو څخه ګټه اخلی اما متاسفانه د ټولنو د نا انډول له کبه

هنر او هنری وسایل د څو محدودو کسانو په لاس کی دی چی د پانګی د ټولولو په هدف له هنر او هنر مند څخه ناوړه ګټه پورته کوی ، د مثال په ډول سکس او سکسی فلمونه ، ستریپتیزم ( ځان لوڅوسکس ....) او د داسی نور چی د انسان کرامت او وقار د څو بی وقارو انسا نانو او حتی دپانګوالی ماکیاویلستی دولتوپه واسطه سره د مینځه وړل کیږی .
دتاریخی ماتریالیزم په نظر کی نیولو سره دا به ډیر ناممکن وی چی د هنر پر مختګ محضاً د بیالوژیکی سیکالوژیکی یا دجنیتیکی (geneti) شاخصونوپه نظر کی نیولوسره صورت ومومی دا په دی معنی چی د انسان او د نورو ژوندی موجوداتو تر مینځ تفاوت کلچر دی چی د انسان پواسطه سره مینځ ته راځی اوکلچر پخپله ارثی نه دی بلکه کسبی دی یعنی انسان په کسبی ډول سره هغه تر لاسه کوی . چی عمدتاً د ژبی دتحرک او د خوزښت په اثر صورت نیسی ، دا ژبه دی چی مونږ ته قدرت راکوی چی مونږ څوک یو ، لکه چی انګلس پخپل یو ډیر مشهور اثر کی( دکار نقش له بیزو څخه انسان ته اغوښتل) لیکلی دی :
دا لاس وه چی د انسان دماغ (Brain) ته وده ورکړ ، انسان دکار په اثر د حیوانی نړی څخه انسانی نړی ته داخل شو . او پس له هغه دا انسان دی چی هرشی تولیدوی ، هنر ، او هنری وسایل مینځ ته راولی او هم باید وویل شی چی انسان په فردی ډول سره ددی توان نه لری چی مادی اومعنوی شیان پخپل سر تولید اونورو ته پیشکش کړی ، نو صریحاً ویلی شو چی تولید ، کلچر ،هنر او .....اجتماعی بڼه او خصلت لری . دکلچر وده او پر مختګ لکه چی مارکس وایی په مولده نیرو پوری مربوط وی چی بیالوژیکی اړخ نه لری بلکه یو اجتماعی فینومن دی ، نو په دی اساس ویلی شو چی د انسان تفاوت له نورو حیواناتو څخه په دی کی دی چی انسان د هنر و ادبیات ، ساینس او د فلسفی څښتن دی . پای
ماخذ : د انتر نیټ له ویب سایتونو څخه .

14032008

www.ayenda.org